

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**له بو بل سره د اړيکو عادي کېدو پر لور**

**(ژباړه)**

په ښکاره د پاکستان رژيم د ډېرو موضوعاتو په پټولو سره په باخبره توګه له هند سره د اړيکو د عادي کولو ګام اخلي. دغه هېواد اعلان کړه چې که هند يو ګام واخلي، پاکستان به دوه ګامونه واخلي. د هند د بهرنيو چارو وزيره يې د کارترپور هوايي دهلېز پرانيستلو ته راوبلله، چې د هند دولت د دغه هوايي دهلېز له جوړېدو سره مخالفت کاوه. دا په يو اړخيزه توګه اعلان شوه چې جګړه ټاکنه نه ده، په داسې حال کې چې هند د کوم څه په اړه کوم ډاډ نه دی ورکړی. په حقيقت کې هند د سړې جګړه د بيا پيلېدو په هڅه کې دی او له اټومي ظرفيت سره مخ دی.

پر دې سربېره، پاکستان د هندوانو په جشنونو کې هند ته مبارکي ورکړه، په داسې حال کې چې د هند د پوځ مشر په توند لهجه له پاکستان وغوښتل چې که سوله غواړي، بايد لاډېر سېکولر شي. په افغانستان کې د ځای پر ځای کېدو موضوع په اړه له هند څخه غوښتنه وشوه څو مهم رول ولوبوي، هغه ځای چې هند يې د پاکستان په بلوچستان او شاوخوا په نامنه کېدو کې مهم رول لري. دغه کار د ازادې سوداګرۍ تر نامه لاندې له هند سره ترسره کېږي؛ حتی پر دې سربېره چې هند د پاکستان د ګټو په له منځه وړلو تورن دی.

له هند سره د اړيکو عادي کول د خبرو يوازينۍ لار او د يوې بريا په توګه ښودل کېږي. ادعا کېږي چې د پاکستان د اقداماتو پر وړاندې د هند چوپتيا به هند ته د نړيوالې ټولنې د پاملرنې لامل شي. پر دې سربېره د پاکستان رژيم خلکو ته ډاډ ورکوي چې له هند سره د اړيکو عادي کېدل د نېکمرغۍ او امنيت کيلي ده.

له هند سره د اړيکو د عادي کېدو په سياست بايد بيا کتنه وشي او پرېښودل شي. له هند سره د اړيکو عادي کېدو تر شاه د ددې هېواد رژيم، هند، د سيمې حالت او نړيواله ټولنه سمه نه مطالعه کوي. که يې دغه کار سم تر سره کړی وی، دغه سياست يې پرېښوده.

له هند سره د اړيکو عادي کېدو قضيه رڼه او ښکاره ده، څنګه چې هند په ښکاره د اسلام او مسلمانانو دښمن دی. په اشغال شوي کشمير کې د هند وحشت او همداراز په ګجرات کې د مسلمانانو پر وړاندې د BJP (د جاناتا ناسيونالېست ـ هندو حزب) د پروګرامونو رهبري د دوی د اسلام ضد کړنې ښيي. د هند لومړی وزير نريندرامودي د پاکستان د نامنه کولو لپاره له افغانستان څخه د يو ابزار په توګه ګټه اخلي او په دې برخه کې يو بل دليل دی. د مودي له خوا د اوبو بند پرګرام پر پاکستان د فشار راوړلو او د هغوی بې اوبو کول په دې برخه کې يو بل دليل دی. په سرحدونو کې د عدالت او نېکمرغۍ

رامنځته کېدو لپاره د هند بې وسې دا ښيي چې دغه هېواد د يو سيمه ييز سياست لپاره مناسب نه دی. په حقيقت کې له هند سره د پاکستان د لسګونه لسيزو چلند او مبارزه د يو دښمن دولت په توګه له کوم حکمت پرته تر سره شوې ده. د نوي پاکستان د باورليک له تاسيس سره مخالفت په سيمه کې د مسلمانانو د ګټو په اړه د دغه رژيم دوه مخيتوب ښيي.

هغه داسې چې د سيمې حالت د امريکا د سياست پر مټ ټاکل شوی او د هغو هېوادونو له خوا چې پر بنسټ يې عمل کوي پلی کېږي. د هند حکومت د مودي په واکمنۍ کې په بشپړه توګه پر يو سيمه ييز حکومت د بدلېدو لپاره د امريکا د برنامو اړوند پر مخ ځي، چې د سيمې د مسلمانانو او چين لپاره د يو مخ کېدونکي دولت په توګه عمل وکړي. امريکا د افغانستان او بنګله دېش پر حکامو د نفوذ له لارې په دغو دوو هېوادونو کې د ستراتيژۍ پلي کېدو او له صحنې څخه د پاکستان بېرون کولو لپاره ګټه اخلي. امريکا د پاکستان په اوسني رژيم کې د يوې سيمه ييزې رهبرۍ په توګه د هند د رژيم پر وړاندې د يو خنډ له منځه وړلو په موخه ګټه اخلي، چې له امريکا وروسته دويمه خبره وکړي. د هند واقعيت ته په کتو څرنګه کولی شي چې د سيمې لپاره نېکمرغي او امنيت راوړي؟ ولې بايد پاکستان هند ته د کار د اسانه کولو لپاره له صحنې لېرې شي؟ څنګه چې د نړيوالې ټولنې په نظر دغه هېواد له سيالو هېوادونو سره د مبارزې وس نه لري. په حقيقت کې د دغه هېواد په اړه هېڅ نړيوال څه نشته او دا يوازې د پنځو لويو هېوادونو، لکه امريکا، روسيې، فرانسې، انګليستان او چين د ګټو لپاره يو ګواښ دی، چې په پايله کې دغه هېواد يو قدرت دی، خو په سيمه کې يوازې دی. د اسلام او مسلمانانو له نظره دغه پنځه قدرتونه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې سره يوځای دي، دښمن هېوادونه بلل شوي او په دې برخه کې يې ګټې هم تنظيم شوې دي. حتی چين له هند سره د دښمنۍ او سيالۍ پر درلودو سربېره پخپلو سرحدونو کې پر اسلام او مسلمانانو وحشيانه بريدونه کوي؛ چې مسلمانانو ته د جزا ورکولو لپاره محکمې لري. د ميانمار له وحشي رژيم څخه د چين ملاتړ د اسلام پر وړاندې په سيمه کې د هند دښمن سياست ښيي.

نو پر همدغه بنسټ امنيت او نېکمرغي د سيمې د مسلمانانو د اوږمهاله ځورېدو د پای ته رسېدو لپاره په اسلام کې نغښتې دي. دا اسلام و چې د پېړيو لپاره يې سيمه رهبري کوله او دا اسلام دی چې يو ځل بيا به همداسې وکړي. له همدغه امله پاکستان د بدلون ځای دی، ځکه په سيمه کې د مسلمانانو لوی هېواد دی، که څه هم د ټول امت په منځ کې نه دی. نو پر همدغه اساس دښمنو هېوادونو ته د امتياز ورکولو لپاره پاکستان بايد د نبووت پر تګلاره د خلافت تاسيسېدو لپاره د پيل ټکی شي، چې د اسلامي امت له ګټو څخه د ظرفيتونو له لارې په ټوليز ډول ساتنه وکړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ)**

[انفال: 72]

***ژباړه:*** *که هغوی د دين په اړه له تاسو مرسته وغواړي، مرسته ورسره وکړئ!*

**ليکوال: مصعب عمير**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۴۰ د ربيع الثاني ۱۰مه**

**۲۰۱۸ م د ډيسمبر ۱۷مه**

**ژباړه: بهير «وياړ»**